د جهان شهادت سلاح استقيم ... (calligraphic motto)

# شهادت

ارگان مرکزی حزب اسلامی افغانستان

چهارصفحه

نمبر مسلسل (۱۲۳۸) سال نزدهم شمارهٔ (۱٤٦) چارشنبه (۱۸) میزان ۱۳۷۵ هـ ش (۲۷) جمادی الاول ۱٤۱۷ هـ ق (۹) اکتوبر ۱۹۹٦ م

### قزاقستان طالبان په رسمیت نه پیژني

الماتا - دتلي ۱۷ مه :

دقزاقستان حکومت طالبان په رسمیت نـه پیژني دایران راديو دقزاقستان دبهرنیوچارو دوزارت دویاند بریگرجیف ایوف له قوله ویلي چي قزاقستان بـه هیڅکله د طالبانو حکومت پـه رسمیت ونـه پیژني اوقزاقستان داستاد رباني ترمشري لاندي حکومت یوقانوني حکومت بولي اودهرارخیزي مرستي وعده ئي ورکړي ده .

راديو دوه جیف ایوف » له قوله

پاتی ۵، مخ ٦۰ ستون

کابل : سرباز مسلح طالبان درجوار مسجد جامع پل خشتی مردم رابه ادای نماز دعوت می کند

### الهی لارښوونې

موږچي دخپل پیغـــام درسولو لـه پاره هرکله کوم پیغمبر لیږلي دي، هغه ته موهماغه دخپل قوم په ژبه پیغام ورکړي دي ترڅوچي هغه په ښه شان په روښانه توگه هغوي په خبره پوه کړي ،بیاچي دالله چاته خوښه وي گمراه کوي یي اوچاته چي یي خوښه شي سمه لاره ورښیي، هغه بر لاسي اودحکمت څښتن دي .

( ابراهیم - ٤ )

### پیشروی طالبان موجب نگرانی فرقه اسماعلیه شده است

بقیه درستون ۵ ٦، صفحه ٤

# په جنوبی سالنگ او د جبل السراج په څنډوکی سخته اوخونړی جگړه پیل شوه

## په پرونی جگړه کی دطالبانو په (۱۵ ) وژل شویو کسانو برسیره ( ۲۰ ) پیك اپ موټرونه او(۳۰) کسه ژوندی نیول شوی دی

کابل - دتلي ۱۷ مه :

دسالنگ په جنوب اودجبل السراج په څنډوکي داحمدشاه «مسعود » اوطالبانو دځواکونوترمنځ خونړي جگړه پیل شوه .

له بغـــلان ولایـــت څخـه په وارسیدلوریوټونو کي ویل کیږي چي دړمه شپه په (٤) بجو دجبل الـسراج په څنډوکي د احمد شاه «مسعود » اوطالبانوترمنځ جگړه ونښته او پرون غرمه په (۱۲) بجودسالنگ د جنوب شاوخواسیمو تـه دجگړي لمن اوږده شوه اوتوله ورځ ئي دوام وکړ .

په ریوټ کـي ویل شوي چي په جگړه کي دواړو خــواوله ډول ډول درندو اوسپکووسلو څخـه کار اخستي

پاتی ۵، مخ ۵، ستون

### دبامیانو د ولایت جهادی دلوگډه شورئ جوړه کړه

## رئیس جلیل یی دشورئ دمسؤل په توگه وټاکه

بامیان - دتلي ۱۷ مه :

دبامیانو ولایت دټولو جهادي ډلو جهادي قوماندانانوله خپــلو دوو ورځو پرله پسي غونډو وروسته یوه گډه جبهه اعلان کړه .

له بامیانو ولایت څخه په رارسیدلو

پاتی ۵، مخ ٦۰ ستون

سلیمان یاری درمصاحبه باخبرگزاری ایران :

# طالبان باسایرگروه ها سازش ناپذیر ودرصدد ازبین بردن آنهاست

## تازمانیکه طالبان سایرگروه ها رادعوت به مذاکره ندهد جنگ درافغانستان ادامه خواهد یافت

حاجي سلیمان یاري عضو شوراي اجرائیه جبهه ملي افغانستان ازبقدرت رسیدن طالبان درکابــل اظهارنگراني نموده است .

موصوف درمصاحبه ئي باخبرگزاري جمهوري اسلامي ایران گفت : متأسفانه طالبان سرسازش باهیچ گـــروه دیگر

بقیه درستون ۵ ۵، صفحه ٤

باریان ووژل شي . مـونږ د کابل ښاراوسپینوږیرو دژوندي پاتي کیدو په خاطر دجگړي نه ډډه وکړه اودغه ښار مودشمال په قصد ترك کړ .

استادرباني دیـــوي نوي جبهي

پاتی ۵، مخ ۵، ستون

استاد ربانی دتهران رادیو سره په مرکه کی :

# ددولت عالی شورا اودکابینی غړی په منظم ډول خپلو کارونو ته دوام ورکوی

## مونږ نه غوښتل چی دکابل په واټونو کی جگړی ته دوام ورکړو، په همدی خاطر مو کابل دشمال په نیت ترک کړ

### مونږ غواړو چی دهیواد دخلاصون په خاطر دجهادی اوملی تو تو نو سره گډه جبهه جوړه کړو

بغلان - دتلي ۱٦ مه :

ددولت عالي شــورا او دوزیرانو دعالي مجلس غړي پـه منظم ډول خپلوکارونو ته دوام ورکوي . دا خبري تیره شپه استاد رباني دتهران رادیو سره دیوي مرکي په ترڅ کي وکړي .

اســتاد رباني وویـل : اوس چي دهیواد پایتخت دیوي ډلي په لاس کي دي داسلامي دولــت ټول ارگانونه دهیواد شمال ته انتقال شوي دي اوپه شمالي ولایاتو کي خپل کارته په منظم ډول دوام ورکوي . ئومونږ زیاته کړه مونږ په دي خاطر دکابل له ښار څخه ووتلو چي نه مونغوښتل ددغي ښارپه کوڅو اوسرکونوکي دطالبـانو سـره داوږدي مودي لپاره جگړه وکړو . مونږ نه غوښتل چــي ترډي زیـات کابل

### یکتن امریکایی تبار درجنگ های لغمان کشته شد

پشاور :

یك تبعه امریکا که درپهلوي طالبان علیه مجاهدیـن مي جنگید کشته شد .

به نوشته روز نامه « دي نیوز» چاپ اسلام آباد این امریکایي تبـار که بعدازمشرف شدن به دین اسلام اسم خودرا به محمد سلمان تبدیل نموده بود،

بقیه درستون ۵ ۵، صفحه ٤

په اسلام آباد کی دایران سفیر محمد« مهدی »آخندزاده :

# په افغانستان کی بهرنی لاسوهنه به حالات نورهم کړکیچن کړی

## هیڅ ډله ددی توان نلری چی دافغانستان ستونزه دزورله لاری حل کړی

اسلام اباد - دتلي ۱۷ مه :

په افغانســتان کي به هیڅ کومه ډله ددي توان ونلري چي ددغه هیواد روانه ستونزه دزور له لارې حل اوفصل کړي

دغه خبره په پاکستان کي دایران سفیر محمد «مهدي» آخندزاده پرون مازدیگر دپاکستان دبهرنیو چارو دوزارت له

پاتی ۵، مخ ۵، ستون

# امریکا برسمیت شناختن اداره طالبان را بارعایت حقوق زنان مرتبط دانست

## تماس واشنگتن باگروه های افغان متضمن منافع امریکااست

واشنگتن :

ایالات متحده روز دوشنبه هشدار داد تازمانیکه طالبان حقوق زنان را رعایت نکند جامعه بین المللي اداره این گروه را به رسمیـ نخواهد شناخت .

به گزارش آژانــس خبري فرانسه نیکولاس برنـس سخنگوي وزارت خارجه امریکا گفت : مقررات طالبان که زنان را ازحضور در محـــل کار ودختران را ازمکاتب منع مي کند موجب انزواي این گروه از جامعه بین المللي مي شود وکمکهاي بین المللي به این کشورکه سالهاي جنگ را پشت سر گذاشته وبه مساعـــدت نیازمند است متوقف خواهد شد .

وي افزوده وضع محدودیـت هاعلیه

بقیه درستون ۵ ۵، صفحه ٤

سخنگوی جنبش ملی درگفتگو با بی بی سی :

# اگرطالبان راه نظامي را اختیارکنند خونین ترین جنگي که تاهنوز روي نداده صورت خواهد گرفت

## استـــاد ربـانـی وجنـرال دوستـــم بـاهـم دیـدارکــردنـد

### هیئت پاکستانی باجنرال دوستم ملاقات کرد وخواهان برگزاری مذاکرات است

## طالبان باید آتش بس اعلان کند وبا پروسه مذاکرات یکجاشود

مزارشریف :

تاکنون بین نیروهاي جنـبش ملي وطالبان دراستقامت سالنگ وسایر جبهات کدام جنگ و درگیري ئي رخ نداده است .

این مطلب راجنرال یوسف سخنگوي جنبش ملي طي مصاحبه ئي بارادیو بي بي سي ابراز داشت . جنرال یوسف درپاسخ به این پرسش که مذاکراتي میان استاد برهان الدین رباني وجنرال دوستم صورت گرفته نتایج آن ازچه قرارمیباشد گفـت : در مجموع بین نیروهاي جنـبش ملي افغانستان واستاد رباني واحمدشاه مسعود تفاهم

بقیه درستون ۵ ۲، صفحه ٤

# جنرال دوستم له استاد رباني سره وکتل

## دوستم داستـاد "ربانی" لـه حکومـت څـخـه خپل غـوځ ملاتړ اعـلان کړ

مزارشریف - دتلي ۱۷ مه :

دافغانستان داسلامي دولت جمهور رئیس استاد برهان الدین «رباني » دملي اسلامي جنبش له مشر جنرال عبدالرشید دوستم سره وکتل .

له مزارشریف څخه پـــه رارسیدلو ریپوټونو کي ویل کیږي چي پرون له غــرمي مخـکي دافغانستان داسلامي دولت رئیس استاد برهان الدین رباني په مزارشریف کــي دملي اسلامي جنبش له مشر جنرال عبدالرشید دوستم سره وکتل اودافغانستان دروان بحران دحل په اړه ئي ورسره تفصیلي خبري وکړي .

له بلي خوا ایران غږ راديو تیره شپه په خپل خبري سرویس کي په هند کي دافغانستان دسفیر مسعودخلیلي له

پاتی ۵، مخ ۳۰ ستون

بطروس غالی دبیرکل سازمان ملل متحد :

# عملکرد طالبان منجر به توقف پروگرام های امدادي واعمار مجدد افغانستان می شود

سازمان ملل :

بطروس غالي دبیرکل سازمان ملل متحد روز دوشنبه هشدار داد که اعمال محدودیت هاي شدید علیـه زنان درافغانستان پروگرام هــاي مساعدت هاي انساندوستانه و باز سازي ایـن

بقیه درستون ۵ ۱، صفحه ٤

### کشورهای کمك دهنده مایل به مساعدت با افغانستان نیستند

روم :

اماپونینوکمشنر اتحادیــه اروپا روزیکشنبه اظهارداشت محــدودیت هاي شدید علیه زنان توسط سران جدید کابل منجربه بحران بزرگ انساني شده واین کشوررابه عقب مي کشاند .

به گزارش آژانس خبري «رویتر» این ایتالیایي تبار عهده دار کمیسیون امورمساعدت هــاي انساندوستانه اتحادیه اروپااست واظهارات وي درواقع تقبیح سکوت جامعه بین المللي نسبت

بقیه درستون ۵ ۱، صفحه ٤

الجهره کویت : پولیس کویتی درمرکز رای دهی راه ورودی به محل صندوق آرا ، رابه رای دهندگان نشان میدهد . دربن انتخابات ۲۳۰ کاندید برای کسب ۵۰ چوکی شورای ملی که یگانه پارلمان منتخب درکشورهای خلیج است باهم رقابت مینمایند.

عبدالرحیم غفورزی حین سخنرانی درمجمع عمومی سازمان ملل متحد :

# وضع دردناك فعلی درافغانستان ناشی از بی تفاوتی سازمان ملل وجامعه جهانی است

## طالبان یك گروه تروریستی بوده مشروعیت ندارد

نیویارك - ۱۷ میزان :

عبدالرحیم غفوررزي معاون وزارت خارجه دولت اسلامي افغانستان طالبان رایك گروه تروریستي خوانده وگفت که این گروه فاقد مشروعیت میباشد .

طبق گزارش منابع خبري وي که درمجمع عمومي سازمان ملل متحد درنیویارك سخنراني میکرد جامعه جهاني رامتهم به بي تفاوتي درقبال بحران افغانستان وروش جنگ طلبانه گروه طالبان کرد .

گزارش مي افزاید که عبدالرحیم غفورزي ضمن یاد آوري هشدارهاي قبلي دولت اسلامي افغانستان دررابطه

بقیه درستون ۵ ۳، صفحه ٤

شهادت

ارګان مرکزی حزب اسلامی افغانستان

بیانگرعقاید وآرمانهای حزب اسلامی افغانستان

**صاحب امتیاز:** حزب اسلامی افغانستان

**مؤسس** : انجنیرحکمتیار

**ناشر** : ریاست ارشادوفرهنگ

**تحت نظر هیئت تحریر**

**تلیفون** : ۲۵۶۳۷۸۹

آدرس پستی : ۱۰۳۶ یونیورستی تاون - پېښور

# یوضروری بیلتون ...!

موږ په وار واروېلي چې زموږ دټولني يو دردوونکي مصيبت دادي چې په مبارزه اوسياست کې مودعلم، تحقيق، تدبر، تعمق او دوراندیشي عنصر خوراکم اوپه نشت حساب دي. اکثراً قضايا سطحي او احساساتي مطرح کيږي، شکليات رېښې اومحتوي سره نه بېليږي، بنيادي واقعيتونه اوعارضي اومقطعي حالات اوشرايط سره نه جلاکيږي، تګلاري اودرېځونه دسليقو اوشخصي خوښ اوناخوښ په اساس ټاکلي کيږي، په احزابوکې دنظرياتي عمليت په ځاي ارباب ګونه اړيکي اوضابطي په ګډه حکومت کوي، دقاعدو اوقيادتونوترمنځ رابطه اومعامله دآمراومامور په څېر ده، نه د«رهبر» او د«پيرو» نه د«امام» او«مقتدي» په دي منځ کې په طبيعي توګه داستونزه حاکمه ده چې پېښې دعلت اومعلول دمنطق له مخې نه تحليل کيږي، دپېښواوقضاياوو درېښودلتهولو هڅه نه کيږي.

پېښوته له يوبل سره دارتباط ورکولو او ديوي بلې په څنګ کې ئې دمطالعه کولو روش اصلاً هيڅ مطرح نه دي، دااساسي پوښتنه خلکوته نااشنا ښکاري چې «ولې وشول» او«دڅه لپاره کيږي» بس څه چې وشول هغه شوي اوڅه چې کيږي هغه کيدونکي ګڼل کيږي.

دايوغيرعلمي اوورسته پاتي ذهنيت دي، داپه تيارو کې دتلو روحيه ده، داديوه بې نښې اوبې منزله سفرمعني ده، اوبالاخره ديوه بې پوښتني، بې مسئوليته اوبې احتسابه حرکت نوم دي.

په دغه ډول يوه حالت کې بريالي او ناکام يوشي وي، دباتدبيره اوبې تدبيره ځاي يووي، زړه سواند اوبې رحمه ګډ سره روان وي، دخاين اوصادق جلا کول سره ګران وي، هغه چې دناکاميو، خيانتونو، بې کفايتيواوېدمسئوليتيو کيسي ئې دهرمجلس نقل وي اوهغه چې په ډيرو شيانو کې برئت لري دواړه يوبرابر دي، يوبرابر څه چې لومړني تري په فرسخونو وړاندي هم تلاي شي.

واضح ده چې په داسې وضعه کې په علمي روحيه اوواقعبينانه روحيه دقضاياووڅېړل اودهغوتل ته ورکوزيدل، متأسفانه يوناوړه بدعت ګڼل کيږي، او په دي استدلال ئې مخالفت کيږي چې «داخبري بې وخته دي»، «داپکې راځي»، «مصلحت نه دي»، او د .....

موږ دامنوچې هره خبره بايد په خپل وخت کې وشي، په خپل مناسب ځاي کې وشي او دحقيقت مرستندوي مصلحتونه رعايت شي، مګردامنطق بايد په هيڅ توګه دسرپوښ په څېرچې هرڅه بند اوبالاخره ئې خوشي کړي، واقع نشي، دااستدلال بايد ديوه عالم په قول «هغه تيره چاړه نشي چې حقيقت ذبح کړي».

بايد موږ ددي شهامت ولرو چې په صراحت سره قضايا مطرح کړو. په لحاظي سره علتونه اوکردارونه حلاجي کړو. او په دي کې پولوي مصلحت چې واقعاً يومقدس حقيقت دي نغښتي دي اوهغه داچې ددي روش په نتيجه کې يو ضروري «بيلتون» واضح اوتشريح کيږي.

په دي معني چې دنظرئې ماتيدل اودسليقي ماتيدل سره بېليږي، دروش ماتي اودهدف ماتي سره جلاکيږي او بالاخره ديوه اعتقاد اومسلك ماتي او دافرادو ماتي سره جدا کيږي ...!

# طالبه !

انس

طالبه ! غواړم چې نن درسره دزړه خواله وکړم، هسې مې ډيرطالبان ليدلي، خبري مي ورسره کړي، دوستي اوآشنايي مي ورسره ده اواوس بې هم ورسره پالم. خوداته بل ډول طالب بې، تاسره مخامخ خبري نه کيږي، نه ته له چاسره خبري کوي، نه چې له چاسره خبري کوي، هغه نوردي، نوځکه زه غواړم چې دقلم په ژبه درسره وغږيږم اوياپه بله ويناقلم په رازداره ژبه درته هغه څه ووايم اوبايي درته ورپورته چې ستاپه خيال کې هم نه راځي اوکه کله کله دي، دي لوري ته پام رااوښتي وي، دقدرت دنيلي دمحقاستي په مخکې به درته ډيرکوچني کوچني ښکاره شوي وي، ځکه چې دقدرت پرنيلي سپوراميرکروړ د پښتنو لومړي واکمن شاعر خوسوونه کلونه پخوالاوېلي وو :

دآس له سوم مې ځمکه ريږدي

غرونه کاندم لتار

کرم ايوادونه ويجاړ

له ما اتل نشته

تاته خويه اوس ځان دامېرکروړ په څيراتل ښکاري !!!

خوزه ستااتلولي نه منم ځکه زه ستاپه باب انديښمن يم او خپلي انديښني پرځاي هم بولم. او که ته زمادي انديښنوته دغوږنيولو له پاره يوه شيبه دقدرت له نيلي راکښته شي اووايې وري اودهغې په رڼاکي پريکړي وکړې، نوبيا ...

اوس درته خپلي انديښني يوه يوه شميرم اوله هغې وروسته درته خپلي غوښتني په مخکې ږدم خوښه دي چې مني يې اوکه نه، ولي مايه خپل مسووليت ترسره کړي وي.

لومړي انديښنه مې داده چې داتاچي دخپل ټول مجاهد ملت دېي وسلي کولو پروګرام دنيك اوبدله تفريقه پرته پيل کړي، که خداي (ج) مه کړه سبا ورځ پرهمدي مظلوم ملت لکه دروس په څيرکوم غاصب خپله اداره تحميلول وغواړي اوياهمداستايعني دملا، عالم، طالب، پښت پال او افراطي مسلمان پرخلاف کومه ځپه راپورته کيږي، اوتاجناب عالي داټول مسلمان ملت بې وسلي کړي وي اوبيا بې هغه مهال هيڅ له لاسوونه شي اوپه لوي لاس دغاصبانو په منګلوکي پريوزي، مسووليت به بې دچاپرغاړه وي ؟

دويمه انديښنه مي داده طالبه ! تابناغلي چې دادټولو مجاهدينو اواسلامي نهضت دافرادوپرخلاف دعامي کرکي اونفرت کوم کمپاين پيل کړي، که فرضاً ته پخپل دغه هدف کې بريالي شي، نبه نوځوك چې داسلام جذبه ورسره ده هغه خوتاله ځانه لري کړ، نو د صنعت، اقتصاد، سياست، فرهنګ، تعليم اونظامي چارو دپرمخ تيولو له پاره به پخپل حکومت کې مجبوراً هغوکسانو ته ځاي ورکوي چې ستاله ارمان اوهدف سره حساسيت لري اوهم په دنياوي چاروکي ترتابه پوه اوچالاك دي، که همداوګړي بيا ستاپرخلاف راپورته شي اوله اسلام اواسلامي نظام نه بل تعبير رامنځته کړي، مسووليت به بې دچاپرغاړه وي ؟

دريمه انديښنه طالبه غورشه !

همدااوس ستاپه جنګي ليکوکي دپخواني خاد، پرچم، خلق، افغان ملت اونوروچپي ګوندونو غړي په وسلوسمبال دټانکونو، توپونو، هاوانونو اونورو درنووسلو ترشانانست دي اوته جناب بې دطالب، اخوند، اوملاپه نامه پيژني، هغوي هم دخپل هدف دترلاسه کولو په خاطر کلونه کلونه خپلي ږيري پري ايښي، پټکي بې ترلي اوبه وختي توګه ستاله اوامرونه اطاعت هم کوي، آياستا اودهغوي اهداف سره يوکيداي شي، ښه غورروکړه، هسې نه چې دکاسي لاندي دي نيم کاسه راونه ووځي اوکه چيري نيم کاسه راڅرګنده شوه نووبايه چې مسووليت به بې دچاپرغاړه وي ؟

څلورمه انديښنه : واوره، خو پام کوه چې دزړه دزادي غوږونه ټپ نه کړي اوهغه داچې :

تاچي دادکندهاردواکمني کومه لويه پيل کړي اوحتي په وران اوټالاشوي افغانستان کي چې څه پاتي په لاس درځي، هغه هم کندهارته انتقالوي، که خداي (ج) مه کړه ستا داروانه جګړه غلجيواودرانيو ددرانيو اومشرقي والو، دکندهاريو اوجنوبي والو، دپښتنو اوتاجکو، دپښتنو او هزاره وو، دپښتنواوازبکو، دپښتنو اونورستانيو دپښتنواوترکمنو، اويادسنيانو اوشيعه ګانوشکلونه غوره کړي اوافغانستان خداي (ج) مه کړه دتجزيي له يوه بل جدي خطرسره مخامخ شي، نو ووايه چې مسووليت به بې دچاپرغاړه وي ؟

پنځمه انديښنه !

که ستاله واکمني سره دنړيوالو مخالفتونو اوتبليغاتو له امله زموږپه مظلوم اوجګړه ځپلي هيواد کي يوواربيا دبهرنيو قوتونو دزورازموينې خونړي اووېني ځپونکي لوبه پيل کيږي اوزموږمظلوم هيواد اوهيوادوال يوځل بيا دبهرنيو وسلو دتمرينانو ډګرګرځي، نو ووايه چې مسووليت به بې دچاپرغاړه وي ؟

شپږمه انديښنه خو مي لاپاتي ده، په سوچونو کي مي ډوبيږه راوبښ شه اوښه په دقت سره ورته غوږونيسه.

ګرانه طالبه ! هغه کفري قوتونه چې مجاهدين، اسلام اواسلامي نظام بي په افغانستان کي دخپلو استعماري اهدافو دپرمخ بيولو له پاره خندان بلل اوستاپه وسيله بې دهغوي دنفي کارپيل کړ، ولي اوس داسې ښکاري چې دهغوي اهداف ستاپه موجوديت کي هم نه ترلاسه کيږي، که هماغوي چې ستاپه وسيله يې د مجاهدينو پرخلاف جګړه پيل کړي ددي پريکړه وکړي چې ديونل داسې چاپه وسيله ستا جناب عالي پرخلاف جګړه پيل کړي او دملا اومجاهد، دپښت پال اوافراطي، داخواني او طالب، دتحريکي اوطالب دمکتبي او جوماتي او ديربلوي اوديوبندي، دشيعه اوسني دخپلمنځي اختلافاتو له امله دخپلو اهدافو اوخپلي خوښي سيکولر (بې دينه) حکومت دقيام له پاره زمينه مساعده کړاي شي اوبه نتيجه کې ټول اسلامي قوتونه چې ستاپه مبارکو ! لاسو به بې وسلي شوي وي له منځه ولاړشي، نوګرانه داخويه راته خامخاوايي چې مسووليت به بې دچاپرغاړه وي ؟

اوومه انديښنه مي دزده کړي په باب ده !

اوهغه داچي ګرانه طالب جانه ! ستاترکنټرول لاندي سيموکي دعصري علومو زياتره مکتبونه اوپوهنتونونه دهلکانو، دنجونو ته د هغو خوراکيو خوهسې هم ترپل شوي دي، او دهري ورځي په تيريدو سره زموږ دمحروم ملت په لکونو زامن دزده کړي له نعمت نه بې برخي پاتي کيږي، که جنګونه همدغسې دبهرنيومداخلو دزياتوالي په صورت کي څوکاله دوام وکړي اودزده کړي اداري همدغسې بندي پاتي شي او دافغان مظلوم ملت زامن بې تعليمه رالوي شي نوګرانه طالب جانه دغه سترمسووليت به دچاپرغاړه وي ؟

ګرانه طالبه ! که ته زمادي انديښنوته څيرشي اوبه دقت سره دخپلي اينډي په باب غورروکړي نووبه پوهيږي چې داستاغورځنګ ددي له پاره راپورته کړاي شوي نه دي، چې په افغانستان کي دي دمجاهدينو په لاسونه، بلکي ستامحترم اوعاليقدر په لاسواسلامي نظام قايم شي، داستاخوزښت ددي له پاره دتائيد ورنه دي چې ګوندي ته دي په رښتيا هم په افغانستان کي دفساد اوناروا په له منځه وړلوبريالي شي، ستاله تحريك نه دهغوي ټه دانه ده چې ته ګوندي دخپلي خوښي اسلامي نظام پرقيام بريالي شي.

طالب جانه وروره ! داپه اصل کي دکفري نړي دلو يو شيطانانو له خوادافغانستان دمسلمان اومجاهد ملت پرخلاف توطئه ده، دااسلامي انقلاب پرخلاف دسيسي دي چې يوبربل پسې عملي کيږي، دادهماغو توطئو يوپله کړي ده چې دمجاهدينو دخپلمنځي جګړو په شکل دجهاد، مجاهد، اسلام، اسلامي انقلاب اواسلامي نظام پرخلاف پيل شوي وه اوهغوي دخپلوشيطاني تبليغاتي وسيلو له لاري د ټري محکومو مسلمانو قاموټوته دانبودل غواړي، چې ګوندي جهادخداي (ج) مه کړه دکفر له تسلط نه دخلاصي اواسلامي حکومت دقيام لاره نه ده اوکه واي نودافغانستان مجاهدين به له يونيم ميليون قربانيو وروسته بريالي شوي وو.

اوس دادي خبره تا (ملا، عالم، اوطالب) ته را ورسيده، اوس به ستادايي زوره زوورتيا وي اودهغوي شيطاني تبليغات او ستادصفونو په منځکي دخپلو بريڅو ځاي پرځاي کول او ډيرژيه واوري چې ستاپه نامه هم دناکامي ټاپه ولګوي، خداي (ج) دي نه کړي دابه بيا هغه وخت وي چې ترکلونوکلونويه څوك داسلامي مبارزي، اسلامي تحريك، اسلامي انقلاب، اسلامي نظام، جهاد اومجاهد نوم اخيستلاي نه شي اولکه دليبيا په څېربه دقزافي غوندي اشخاصوله خوادسياسي کورني دشهيدانوکليزه نمانځل کيږي اويالکه دالجزاير په څيرچې ۱۳ کاله يې دفرانسوي استعمارپرخلاف له يو ميليون زياتومسلمانانو شهادتونه ورکړل او بالاخره پري دمسلمانانو دخپلمنځي اختلافاتو له امله د «احمد بن بيلاء» په څېر يوالجزايري نژاد فرانسوي دجمهوررئيس په حيث وټاکل شو، چې له فرانسوي ژبې پرته دالجزايري مسلمانانو پرموروني ژبه هم نه پوهيده.

ګرانه طالب جانه ! دقدرت ليوني نشي نه دځان ويستلو کوښښ وکړه، په خپل هيواد اوتري کې داسلام دوستان اودښمنان وپيژنه لومړي له خپله ځانه يعني خپل هيواده پيل وکړه اوله هماغوي سره غوږونه نژدي کړه چې زخمي زخمي بدنونه يې اوس هم داسلام اسلام څريکي خيژي، هماغوي سره دروغي جوړي لارغوره کړه چې داسلام، جهاد اواسلامي نظام په توردکفري توطئو ښکاري شوي، هماغوي سره غوږونه نژدي کړه چې افغان مظلوم ملت يې ترقيادت لاندي يونيم ميليون شازلمي مجاهدين دشهادت له کاروان سره يوځاي کيدل زغملي دي، اوکه نه دادپوازي الوت خيالونه به دي وزرونه ستړي کړي اومنزل به درنه دکوه قاف اومره لري وي، که نه نوبيا به درته ووايم، خوګټه به ځکه ونه لري، چې اوبه به له ورخه تيري وي.

# ارتش روسیه ؛ ناهماهنگی درهماهنگی

* هفته نامه «مسکونیوز» چاپ پایتخت روسیه نوشت : ارزيابي هاي به عمل آمده درنيمه نخست سال ۱۹۹٦ درارتش روسيه نشان مي دهد که دولت اين کشور همچنان نسبت به کاهش چشمگير توانايي نيروهاي مسلح روسيه بي تفاوت است.

اين منبع افزود : نيروهاي مسلح روسيه هم اکنون درشرايطي مناسب براي انجام عمليات استراتژيك يانقل وانتقال نفرات وتجهيزات براي عمليات نظامي وسيعي دراروپا ياهرجاي ديگر جهان نيستند.

افسران ارشد پنتاگون عقيده دارند که ارتش روسيه تنها توانايي دفاع از مرزهاي اين کشوررا، دريك جنګ کوتاه مدت دارد.

مسکو نيوز نوشت، اين نتيجه ګيري براساس نتايج دردناك عمليات ارتش روسيه درچيچن مبتني است که طي آن ساختارفرماندهي سابق به رهبري «پاول ګراچف» وزيردفاع سابق بي کفايتي کامل خود را دراستفاده از پيشرفتهاي تئوريك و مهارتهاي تاکتيکي وعملياتي به نمايش ګذاشت.

اين منبع افزود : جنرال هاي روسيه نه براساس توانايي هاي خود براي پيشبرد جنګ، بلکه براساس وفاداري شان به پاول ګراچف وزيردفاع سابق اين کشورمنصوب شده بودند.

براين اساس، حتي باوجود اعتراض مخالفان درمورد فرماندهي نيروهاي کارآمد وزبده، ارتش روسيه ازشيوه کهنه به کارګيري حجم وسيع ارتش ونفرات استفاده کرد.

هم اکنون مهم ترين مشکل ارتش روسيه به نحوه مديريت نيروها، همکاري بين واحد ها وبه کارګيري سلاح هاي پيشرفته مربوط مي شود که شرايط انجام عمليات جنګي رابه شدت خطرناك مي کند.

براثر اين عارضه، عده اي از ناظران تلفات نيروهاي غيرفعال رادر چيچن براثر مسايلي چون ناتواني دراستفاده، ازسلاح وتجهيزات پيشرفته بوجود آمده بود. از تلفات آنها درحين عمليات بيشترمي دانند.

مسکونيوز درادامه تحليل خود به دلايل اصلي وجود بحران درارتش روسيه اشاره کرد ونوشت : اختلافات سياسي، داخلي ونابساماني اوضاع اقتصادي باعث متوقف شدن سرعت اصلاحات درارتش شد که درعمل وخيم ترشدن مشکلات نظامي روسيه درسه چهارسال اخير رافراهم کرد، نيروهاي ستادي وزارت دفاع روسيه نيز رئيس جمهور ودولت رادرآګاهي ازوضعيت حقيقي اوضاع دور کردند.

اين روزنامه افزود : قدرت عملياتي وآمادګي جنګي ارتش به شدت کم شده وهمچنان کاهش مي يابد.

درسال ۱۹۹٦ تنهايك چهارم از نيروهاي ارتش روسيه ازتجهيزات مناسب بهره مند شدند درحالي که وزارت دفاع روسيه پول کافي براي خريد سلاح وتجهيزات نظامي نداشت، هزينه هاي جنګ چيچن نيز به مقدار بيشتري قابليتهاي مالي آن رابه شدت کاهش داد.

درصورتي که اين وضعيت ادامه پيدا کند مقدارواحد هاي بهره مند از سلاح هاي پيشرفته از ٥٥ تا ٥٦ درصد درسال ۱۹۹٥ به ٤٠ درصد درسال ۲۰۰٦ ميلادي کاهش خواهد يافت.

به نوشته مسکو نيوز، احزاب و ګروه هاي سياسي که ازمشکلات نظامي براي اهداف سياسي خود استفاده مي کنند، تاثير سوئي برآمادګي هاي ارتش ګذاشته وازنيروهاي نظامي به عنوان يك ابزار قدرت استفاده کرده اند. برپايه اين ګزارش، ناتواني درالقاء

**هم اکنون در میان افسران روسیه اعتقاد براین است که کشور شان نیازمند ارتشي کار آمد است ،زیرا دموکراسي غربي با انبوهي از فساد مدل مناسب براي روسیه نسیت**

ايدئولوژي جديدي پس اززوال عقايد کمونستي موجب بن بست اخلاقي درنيروهاي مسلح روسيه است ونيروها به آرامي به اين باور معتقدمي شوند که عمليات نظامي آنهاممکن است درآينده مورد بازيني هاي تندروانه سياسي قرارګيرد.

درنتيجه اين حادثه رهبري واحد برارتش ازبين رفته به جاي نظم و ترتيب آشفتګي ظاهر شده است و ګروه هاي افسران درحال بيګانه شدن کادررهبري کشور هستند.

هم اکنون درميان افسران روسيه اعتقاد براين است که کشورشان نيازمند ارتشي کارآمداست، زيرا دموکراسي غربي باانبوهي ازفساد مدل مناسب براي روسيه نيست.

علاوه براين، محافل نظامي بر اين عقيده هستند که فروپاشي اتحاد شوروي يك تراژيدي تاريخي بوده است وهم اکنون صداي برخي طرفداري ها ازايجاد ساختار دولتي مشترك براساس اتحاد جمهوري هاي اسلاويه ګوش مي رسد.

مسکو نيوز افزود : درميان مسئولان نظام مناطق روسيه ګرايش خطرناکي براي حل نيازهاي اقتصادي واجتماعي واحد هاي تحت امرشان از طريق کارګزاران محلي دولت بوجود آمده است که باعث ايجاد رابطه صميمي آنها باالیګارشي سياسي و اقتصادي مي شود واين روند باعث ترغيب نظامي ها به دفاع ازمنافع اقتصادي چنين افرادي درداخل و خارج کشورخواهد شد.

براي غرب، ګسترش نفوذ عناصر جنايتکار درميان رهبران روسيه بسيار خطرناك است، زيرادرنتيجه آن ارتش روسيه مي تواند به تحويل دهنده بزرګ جنګ افزارنظامي به ګروه هاي مافيايي وسازمان هاي تروريستي و افراطي مبدل شود.

مسکو نيوز درمورد وضعيت سلاح هاي اتمي روسيه نوشت : در حالي که اين بخش ازظرفيتهاي نظامي بايد براي جنګ احتمالي باناتوآماده باشد قدرت شان ۲/٥ برابر کمتر از امريکا است.

کارشناسان امريکايي پيش بيني مي کنند که در ۱۰ تا ۱٥ سال آينده روسيه قادر به داشتن سيستم ضدهوايي مناسبي براي پوشش کامل اين کشور دربرابر موشکهاي قاره پيماي امريکا نخواهد بود.

اين هفته نامه افزود : علاوه براين، کادر رهبري روسيه تاکنون سياست مدوني رادرباره سلاح هاي اتمي ندارد وناتواني صنايع نظامي درتوسعه تجهيزخود وارائه خدمات به جنګ افزارها باعث زوال چشمګير اعتماد به موشکهاي اتمي روسيه شده است.

مسکونيوزنوشت : هرچند در سال هاي اخير اولويت خاصي به توسعه زيردريايي وموشکهاي هسته اي داده مي شود. اما کارکردآنها به دليل ارائه خدمات نازل وفقدان پشتيباني ناوګان دريايي به شدت تنزل مي يابد.

ازسوي ديګر، توانايي هاي پرسنل مراکز استقرار موشکهاي اتمي به دليل مشکلات شغلي، شرايط زندګي بدو کاهش تخصص درارتش به شدت تنزل يافته است.

مسکونيوز درتشريح مشکلات وزيردفاع جديد روسيه نوشت : «ايګور روديناف» تکيه ګاهي در وزارتخانه خود ندارد و درآنجا ګروهي از جنرال هاي فاسد عليه اوکارمي کنند وبه مقابله بااقداماتش مي پردازند.

دراين حال دولت روسيه با صرف نظر ازدرګيرشدن با مسائل ارتش، ترجيح مي دهد که به عدم وجود آنها باورداشته باشد.

اين منبع افزود : تااواسط اګست سال جاري درواحد هاي نظامي روسيه ٥٦٦٨فقره تخلف مشاهده شد که ٥٢٤٦ مورد آنها جرم و٣٠٦ مورد مسامحه بوده است.

درنتيجه اين جرايم ۳۹۲ سرباز جان باختند که ۱۳۲ مورد آنها خودکشي

بقيه درستون «۲» صفحه «۱»

# جوانا! ره طاعت امروز گیر
# که فرداجوانی نیاید زپیر

## صفحه جوانان

## آستانه

### اصلاحات رادرخود شروع کنیم

هرکسي که دراجتماعي زندگي مي کند براي دوام وبقـاي اجتماعش ضرورت دارد به یك سلسلهٔ عملیات تنافعي دست زند .

براي اجراي این عملیات احتیاج دارد به شناخت عوامل مضره یي که حیات اجتمـاع را درسراشـیب خطرقرارمي دهد .

آگاهي و اطـلاع رمز هرگونه پیروزي چه درجنبه مادي وچه درجنبه غیرمادي است آن قومنداني که ازحال خودودشمن بي خبرباشد، آن حاکمي که ازجریانات ووقایع جامعه خود اطلاع نداشته باشد وضعش آشفته وخودقابل ملامت است .براي اوضروري است که نخست خـود را به وسایل آگاهي بخش وشعوربیدار مجهز سـازد . کسي که میخواهد جامعه اش ازلوث وآلودگي گناه پاك باشد باید بداند که درجامعه چه مي گذرد ومردم ازروزگاروزندگي چه برداشتي دارند وچگونه حیات به سرمي برند ؟

درکشور مابیش ازهرچیزدیگر که باید به آن توجه نمود جنگ است جنگ براي کسانیکه انبار هاي شان ازاسلحه پراست یك سرگرمي میباشد وآنها ازاین طریق براي خویش وسایل معیشت رافراهم آورده ، حیات دیگران را فداي خواهشات پست نفسي خود کرده اند .

حالا آنهائیکه احساس زنده دارند باید براي رفع این معضله که خانواده ها را به گلیم غم وماتم نشانده است دست بکارشوند واینکه ازکجا آغـاز شود اینهم قابل غور است . بـه نظرمي رسد که بهترین ونزدیکترین محلیکه مي شود اصلاح را ازآنجا شروع کرد نفس است وبراي مقابله باجنگ لازم است نفس هااصلاح و بـه موازین مکتب رهایي بخش اسلام عیار گردد وبعداً خانواده ، پس ازآن محله وبالاخره شهرومملکت . اگر ما دنبال جهالت باشیم وخودرا درمورد آنچه برسر همنوعان ماميآید بي خبرنگهداریم زود است که هویت ملي و اسلامي خودرا ازدست داده و ملعبه دست بیگانگان شویم وخصوصاً ازآنهائیکه نـزد ما کمتر از چارپایان اند .

جوانان که نسل پرتوان کشور اند وبیشترین باربدوش آنها حمل مي شود وظیفه ومکلفیت دارند تادراین زمینه بادقت وآگاهانه بنگرند ودرمقابله بامفاسد ، ازخود شروع نموده به دیگران برسانند تا [illegible] نسل آینده کشورما ازآفات جنگ درامان بوده زندگي پرمیمنتي راهمراه داشته باشند.

## برېښنا (برق) کله اوڅنګه په افغانستان کې دود شوه ؟

دشلمې پېړی له لومړي نیمایي نه وروسته برېښنا دبشر په ژوند کې رامنځ ته شوه چې دعلم اوپوهې دګرندي پرمختګ له امله په دې برخه کې هم پوره پرمختیا وشوه.

دلومړي ځل له پاره په افغانستان کې دامیر عبدالرحمن په واکمنۍ کې دبرېښنا رڼا وځلېده اوپه کابل کې د (٤٠) ګروپوتوپه ظرفیت یوه وېنمو په کارولوېده چې وروسته بیا کابل ، جلال آباد او پغمان تـه ځېنې نور کوچنې ماشینونه هم راوړل شول چې یوه یې هم له شلوکیلو واتو څخه زیات توان نه درلود .

کله چې دبرېښنایي چاروپرمختګ رامنځ ته شونو په افغانستان کې هـم همدغه فعالیتونه پیـل شـول ، داچې افغانستان یوه غـرنی سیمه ده او دریابونه او آبشارونه ( څړوبې) په کې ډېر دي نو دېندونو دجوړولو پلانونه طرح شول چې اوس دافغانستان دبرېښنا په سلوکې نوي له اوبو څخه ترلاسـه کېږي ، دافغانستان دځروبېو اوسروی شویو بندونو څخه څه ناځـه (۱۰۰۰۰۰۰،) هـسپاوره برېښـنا ترلاسـه کـېدای شي چې تر اوسه یې ډېره لږه برخه په کار اچول شوې ده :

### دجبل السراج دبرېښنا فابریکه

دجبل السراج دبرېښنا فابریکه پـه ( ۱۲۹۰-۱۲۹۳هـ ش.) کلونو کې دانګریزي متخصصینو له خوا سروې شوه او په (۱۳۰۰) هـ.ش.کال کې دوه توربینونه د KW ۱۵۰۰ په ظرفیت په کاروا چول شول چې ٪۵۰ برېښنایي دکابل ښار په روښانولواودنازولو په خدمت کې کارول کېده .

دجبل السراج د برېښـنا فابریکه دسالنګ په دریاب باندې جوړه شوې چې ۳۸متر ارتفاع لري وروسته بیا دوه نور توربینونه هم په کې په کار واچول شول چې ظرفیت یې KW ۲۸۹۰ ته پورته شو. لـه دې برېښنا نه دجبل السراج اوچاریکاروښار په روښانولو اودګلبهار دفابریکې په فعالولوکې کار اخیستل کېږي .

### دچک وردګ دبرېښنا فابریکه

دافابریکه په ۱۳۱۹ هـ.ش. کال کې دوردګو دچك په ولسوالي کې جوړه شوه ددې فابریکې او بـه د ۲۸مترو

پاتی ۵، مخ ۲۰، ستون

## دانش تجربی

### ژن کنترول گرسنگی کشف گردید

گروهي ازدانشمندان مي گویند : توانسته اند ژني را کـه احساس گرسنگي را دربـدن کنترول مي کند شناسایي کنند .

شناسایي این ژن مـي توانـد به ساختن داروي کنترول گرسنگي ونهایتاً درمان چاقي منجرشود .

این ژن راه هایي راکه ازطریق آنها مغز به کمبود غذا دربدن پي مي برد وباارسال امـواج عصبي احساس گرسنگي ایجاد مي کند کنترول مي نماید .

به گفته ایـن محققـان ، آنهانه تنها چنین ژني راشناسایي کرده اند بلکه توانسته اند ساختمان این ژن را نیز نقشه برداري کنند .

هدف نهایي این مطالعات ،ساخت وتوسعه دارویي است کـه مي تواند میکانیزمي راکه مغـز ازطریق آن نیاز به غذا راکنترول مي کـند، مسدود نماید .

بقیه درستون ٦ صفحه ٤

## مشعل راه

### وجدان اجتماعی ضامن اصلاح امت است

وجدان اجتماعي امت براي اصلاح زندگي آن نقش مهم وارزنده دارد ، همین وجدان اجتماعي امت مسلمه بوده که تعلیمات دین اسلام درطي چارده قرن تغییر ناپذیر مانده است .

مسلمان درهرجایي که باشد چیز هاي مرغوب وپسندیده را بادرنظرداشت اصول مصفا وخالص دین بدون تعصبات قومي، لـساني ونژادي قبول نموده بدان سرانقیاد میگذارد .خیلي ازمعاملات پیش آمده است که نزدیك بوده مسیرحیات مسلمانان را به انحراف بکشاند ولي همین وجدان بیدار اجتماعي آنها را از گمراهي بازداشته وبه جاده مستقیم رهنمود گردیده است،و هم چنان وجدان بیدار وآگاه اجتماعي مسلمانان بوده است که به ایشان غیرت وحمیت دیني بخشیده وباعصبیت جدي دیني آنهاتوانسته اند ازحدود وشغور دین وآئین خویش بدفاع بپردازند که دائماً هویت وتشخص اسلام چون آفتاب تابان به دامن زمین تابیده است ، تردیدي نیست که براي حفظ ونگهداشت وجدان بیداروضمیر پاك درجامعه به عده یي ازشخصیت هاي مبارز ضرورت است تاهمواره مردم را به سوي نیکویي ها دعوت نموده ازبدي هاباز بدارند و صفحه حیات جامعه را اززنگارگناه وبدي ها پاك داشته باشند .

براي تربیت این گونه اشخاص سه چیز بکار است :

۱ - محیط خانواده :

هرچند براي هرانساني براي رشد نیکو وفطري محیط وشرایط مناسب ضروري است ولي براي یك مسلمان جهت پیدایش شخصیت سالم او محیط وشرایط لازم ضرورت مبرم است . اگر درآن خانواده یي که یك بچه بدنیامیآید ، اصول اخلاقي رعایت شود والدین وبقیه اعضاي فامیل ازخود اعمال اسلامي بروز دهند ومطابق اصول واخلاقیات اسلام عمل نمایند، بدون شك آن بچه هم اثرات مثبت ازآن اعمال وکرداربرمیدارد .

